داکتر محمدآجان مرزی
۲۰۱۶/۰۵/۰۱

# وروسته پاتې هېوادونه او مالي سياست

**سريزه**

مالي سياست په ملي اقتصاد کې د حکومت له خوا د لګښتونو او عايداتو، په ځانګړې توګه د مالياتي عايداتو، له لارې معين سياستونه دي چې موخه يې د بېکارۍ له منځه وړل د انفلاسيون او ديفلاسيون کنترولول او د اقتصادي ودې او پرمختګ تشويقول دي. په بل عبارت حکومت له دې لارې د خپلو لګښتونو او عايداتو پر بنسټ پر ملي اقتصاد باندې د تولنې د اقتصادي ودې او پرمختګ د غوښتنو پر بنسټ اغېز غورځوي. په دې اړه بايد وويل شي چې مالي سياست پر هغو پاليسيو او د هغو له لارې پر هغو اغېزو بحث کوي چې په ملي اقتصاد کې په ټوليزه توګه محسوس وي. د حکومت د عايداتو او لګښتونو د جوړښت د بدلون موخه په لومړي سر کې د مجموعي غوښتنې بدلول او پر سپما او پانګه اچونه او د عايداتو پر ويش اغېز اچونه ده. د دې پاليسيو په پايله کې ښايي يوه او يا بله خوا په لنډمهاله توګه عايداتي ګټې ترلاسه کړي او يا زيانمن شي. خو موخه بايد ټل د ملي اقتصاد وده او پرمختګ وي. د بېلګې په توګه د کورنيو لپاره د مالياتو کمېدل د دوی د حقيقي عايداتو او په دې توګه توکو او خدمتونو ته د غوښتنې (تقاضا) د زياتېدو لامل ګرځي. او که د تصديو پر عايداتو ماليات زيات شي نو د تصديو د خالصو ګټو کچه کمېږي. حکومت په ملي اقتصاد کې خپل لګښتونه له بېلابېلو مدرکونو او يا سرچينو ترلاسه کوي لکه ماليات، د پېسو چاپول، پور اخستنه، د دولتي ذخيرو کارول او د دولتي شتمنيو خرڅول .

پوښتنه دا ده چې د مالي سياست تيوريکي تعريف تر کومه حده په وروسته پاتې هېوادونو کې چې زياتې اقتصادي او مالي ستونزې لري د تطبيق وړ دی؟ په دې هېوادونو کې حکومت له مالياتو څخه چې د لګښتونو د تمويل مهمه وسيله يې ده د بېلابېلو لاملونو له امله چې وروسته به يې تشريح کړم دومره مالي وسيلې نه ترلاسه کوي چې د هغوی په مرسته خپل ټول لګښتونه تمويل کاندي. په دې هېوادونو کې د وګړو د عايداتو کچه ټيټه ده. په زياتو حالاتو کې پر عايداتو ماليه يا موجوده نه ده او يا هم زياتې تخنيکي او عملي ستونزې لري. په وروسته پاتې هېوادونو کې له کورنيو ناخالصو محصولاتو سره د دولت د مالياتي عايداتو نسبت ډېر ټيټ دی. په دې هېوادونو کې د کورنيو ناخالصو محصولاتو او مالياتي عايداتو تر منځ نسبت له ۲۰٪ څخه کم دی. دا نسبت په پرمختللو هېوادونو کې د ۳۰-۳۵٪ تر منځ دی. (م. مور).

زه به په خپله ليکنه کې د وروسته پاتې هېوادونو پر مالي کمزورتيا او د هغې پر لاملونو رڼا واچوم. په دې ځای کې غواړم دې خبرې ته اشاره وکړم چې په ليکنه کې مې مقصد له وروسته پاتې هېوادونو څخه هغه هېوادونه دي چې د ملګرو ملتونو د ځانګړو معيارونو پر بنسټ په نړۍ کې له ټولو کمه اقتصادي وده لري، د بشري شاخص د دوی کچه يې ډېره ټيټه ده، د خلکو کلنۍ سرانه عايد يې ډېر کم دی، وګړي يې بېوزلي دي او د سپما کچه يې ډېره ټيټه ده.

**په ملي اقتصاد کې د مالي سياست بنې**

حکومت په بېلابېلو اقتصادي حالاتو کې له بېلو مالي سياستونو څخه کار اخلي. د بېلګې په توګه که په اقتصاد کې توکو او خدمتونو ته زياتېدونکې غوښتنه انفلاسيوني حالت رامنځته کړي او له يوې معينې کچې زيات شي نو حکومت بايد په ملي اقتصاد کې غوښتنه د مالي سياست د دوو مهمو وسيلو په مرسته چې لګښتونه او عايدات، په ځانګړې توګه مالياتي عايدات دي، راټيټه کړي تر څو په دې توګه د بيو کچه يوه متعادل حالت ته راوګرځي. حکومت د مجموعي غوښتنې د کمولو لپاره له انقباضي مالي سياست کار اخلي تر څو په اقتصادي بهير کې د غوښتنې د کمېدو له امله د محصولاتو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

عرضه کمه او د بیو کچه ټیټه شي او یوه متعادل حالت ته راوګرځي. حکومت دې موخې ته د رسېدو لپاره خپل لګښتونه کموي او یا هم د مالیاتو کچه لوړوي. مختلطې بڼې هم شونتیا لري. یعنې حکومت کولای شي له یوې خوا خپل لګښتونه کم کړی او په عین وخت کې د مالیاتو کچه هم لوړه کاندي. د انقباضي مالي سیاست په هر حالت کې د تصدیو او وګړو پر حقیقي عایداتو منفي اغیز رامنځته کېږي. د انقباضي مالي سیاست پر مهال د حکومت کلنۍ بودجه مازاد لري. په دې معنی چې د لګښتونو اندازه یې د عایداتو د اندازې په پرتله کمه ده.

حکومت د رکود او اقتصادي وېجاړتیا په حالت کې د اقتصادي کړنو د بیا رغونې او تشویق لپاره خپل بودجوي لګښتونه زیاتوي او یا هم د مالیاتو کچه ټیټوي او تصدیو ته سبسایدي ورکوي. په نتیجه کې له یوې خوا د دې شونتیا رامنځته کېږي چې د حکومت له خوا د ټولنیزو مرستو او د کمو مالیاتو له لارې د کورنیو او وګړو د عاید کچه لوړه شي او په دې توګه یې توکو او خدمتونو ته غوښتنه یا تقاضا زیاته شي او له بلې خوا دولت د خپل لګښت له لارې په اقتصادي او ټولنیزو بنسټیزو برخو کې پانګه اچونه کوي او په دې توګه د تصدیو تولیدي فعالیت زیاتیږي او د کار په بازار کې د کار قوې ته غوښتنه هم لوړیږي. حکومت د مالیاتو د کچې د ټیټولو له لارې دا هم کولای شي چې تولید په هغو سکتورونو کې تشویق کړي چې وروسته پاتې دي. په بل عبارت حکومت کولای شي چې د مالي سیاست په مرسته د عایداتو وېش هم اغېزمند کړي. په داسې حالاتو کې د اقتصادي کړنو د تشویق لپاره له انبساطي مالي سیاست څخه کار اخستل کېږي.

د حکومت د انبساطي مالي سیاست یوه مهمه موخه د مجموعي غوښتنې زیاتول دي او دې موخې ته د رسېدو لپاره یا خپل لګښتونه زیاتوای او یا هم مالیه کموي او یا هم دواړه ګامونه عملي کوي. مجموعي غوښتنه د حکومت د مستقیمو پېرودنو او نورو لګښتونو د زیاتېدو له لارې په مستقیمه توګه زیاتیږي بې له دې چې د مالیاتو په کچه کې کوم بدلون رامنځته شي او د مالیاتو د کمېدو له امله د کورنیو حقیقي عایدات زیاتیږي او په دې توګه د زیاتو توکو او خدمتونو د پېرودنې وړتیا تر لاسه کوي .

د حکومت انبساطي مالي سیاست په لنډ مهاله توګه د تولید د زیاتوالي لامل ګرځي خو په اوږد مهاله توګه برعکس پایلې رامنځته کولای شي. که حکومت یو کاري مالیاتي سیستم ونلري نو د تولید د زیاتوالي له امله به یې د مالیاتو له پلوه عایدات زیات نشي او په دې توګه به په اوږد مهاله توګه د نوو اقتصادي پروژو د پلانولو لپاره په پوره اندازه مالي وسیلې ونلري. په دې توګه حکومت دې ته مجبورېږي چې پور تر لاسه کړي. دا خبره په ځانګړې توګه په وروسته پاتې هېوادونو کې نورې اقتصادي ستونزې رامنځته کوي او د دولت لنډ مهاله انبساطي مالي سیاست په اوږد مهاله توګه د تولید او په دې توګه د اقتصادي فعالیت د کمښت لامل ګرځېدلای شي. له دې امله به د نن ورځې انبساطي مالي سیاست په راتلونکې کې د حکومت له خوا د پورونو د ادا کولو له امله پر مالیه ورکوونکو باندې اضافي فشار رامنځته کړي.
حکومت باید د خپلو انقباضي او انبساطي مالي سیاستونو په طرح کولو کې له زیات دقت کار واخلي او د دې سیاستونو اغېزې پر ملي اقتصاد په هر اړخیزه توګه تحلیل او ارزیابي کړي.
ځینې اقتصاد پوهان په دې آند دي چې په راتلونکې کې د مالیاتو پر کچه د مالي سیاست اغېزې د دې لامل ګرځي چې مستهلکین د خپلو سپماوو په جوړښت کې بدلون راولي. کله چې په مالیاتو کې اوسنی کمښت په راتلونکې کې د مالیاتو د زیاتوالي احتمال رامنځته کړي نو وګړي د مالیاتو د اوسني کمښت له امله هغه اضافي عایدات چې تر لاسه کوي یې په راتلونکې کې د مالیاتو د لوړېدو لپاره سپما کوي. په دې توګه د مالیاتو د کمښت له امله نه د سپما کچه کمېږي او نه هم د خلکو لګښت زیاتیږي او په پایله کې په مجموعي غوښتنه کې هم کوم بدلون نه رامنځته کېږي او د تولید د کچې د لوړتیا لپاره د حکومت له خوا د مالیاتو ټیټول بې نتیجې پاتې کېږي (د. ن. وېل). زما په آند د مستهلکینو د دا ډول اقتصادي عمل احتمال دومره زیات ندی. خو که د حکومت د لګښتونو د زیاتوالي له امله په مجموعي غوښتنه کې بدلون رامنځته نشي نو د دې ګواښ موجود دی چې په ملي اقتصاد کې د (Corwd Out) یا له «اقتصاد څخه د باسنې» په نامه یو اغېز


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

رامنځته شي. په دې حالت کې د حکومت د لګښتونو زیاتوالی په خصوصي سکتور کې په هماغه اندازه کمښت رامنځته کوي او په دې توګه د اقتصادي ژوند د رغوني لپاره د حکومت هلې ځلې بې نتیجې پاتې کېږي. که حکومت د خپلو لګښتونو د زیاتېدو د تمویل لپاره بانډونه او یا د دولتي پورونو سندونه خرڅ کړي نو باید د دې سندونو د سود نرخ لوړ کاندي تر څو په مالي بازارونو کې غوښتنه ورته زیاته شي. په دې توګه په ملي اقتصاد کې د سود نرخ لوړېږي. د سود د نرخ لوړېدل په خصوصي سکتور کې د اقتصادي فعالیت د کموالي لامل هم ګرځي او په دې توګه د دې شونتیا موجوده ده چې یو شمیر تصدی دې ته اړې شي چې خپل اقتصادي فعالیت بند کړي او په دې توګه په غیرمستقیمه توګه د اقتصادي فعالیت له صحنې وباسل شي.

مالي سیاست تر ډېره حده د برتانوي اقتصاد پوه جان مینارد کینز (۱۸۸۳-۱۹۴۳) پر نظریو ولاړ دی. د نوموړي په آند حکومت د دې توان لري چې د مالیاتو او خپلو لګښتونو له لارې په اقتصاد کې مثبت بدلون رامنځته کړي. د کینز له نظره باید حکومت د خپلې بودجې د توازن پر ځای په ملي اقتصاد کې د نوساني بدلونونو پر مهال د خپل مالي سیاست په مرسته د دې نوسانونو له ناوړه اغېزو مخنیوی وکړي. د بېلګې په توګه د اقتصادي کم فعالیت پر مهال په اقتصادي بنسټ یا زیربنا کې پرمختیایي پروژې تر لاس لاندې ونیسي تر څو کار ته غوښتنه زیاته شي او د کار د مزد په کچه کې ثبات رامنځته شي (جهان، محمود، پپاګیورګیوس، ۲۰۱۴).

د حکومت مالي سیاست د یوه هېواد د سکو د تبادلې پر نرخ هم اغېزه لرلای شي. د بېلګې په توګه که حکومت له انبساطي مالي سیاست څخه کار واخلي نو کېدای شي چې د پوره اندازه مالي زېرمو د نشوالي پر مهال د خپلو زیاتېدونکو لګښتونو لپاره پور تر لاسه کړي. لکه څنګه مو چې مخکې یادونه وکړه د دې موخې لپاره باید حکومت د پورونو د سود نرخ لوړ کړي تر څو په مالي بازارونو کې پور ترلاسه کړای شي. دا خبره په خپل وار بهرني پانګوال هم د پور ورکولو لپاره راجلبوي او د هېواد ملي سکې ته غوښتنه یا تقاضا زیاتېږي او په پایله کې یې د تبادلې ارزښت لوړېږي. د ملي سکې د تبادلې د ارزښت د لوړېدو پر مهال د هېواد د صادراتو بیه لوړېږي او په دې توګه د صادراتو د کمښت لامل ګرځېدلای شي. په اوږد مهاله توګه د یوه هېواد د پورونو د کچې د دوامداره زیاتېدو له امله په مالي بازارونو کې د هېواد د پورونو د اداکولو پر وړتیا باور کمېږي، ملي سکې ته غوښتنه کمېږي او په دې توګه د سکې د تبادلې ارزښت بیا هم کمېږي. (انویستوپیډیا).

**په وروسته پاتې هېوادونو کې د مالي سیاست ستونزې**

وروسته پاتې هېوادونه د مالي سیاست د پلي کولو په وړاندې زیات شمېر خنډونه لري چې یا د دې سیاست پلي کول ناشوني کوي او یا یې محدودوي. لکه مخکې مو چې یادونه وکړه د حکومت د مالي سیاست دوه بنسټیز اړخونه د دولت عایدات او لګښتونه دي. وروسته پاتې هېوادونه له دواړو خواوو اقتصادي ستونزې لري. په دې هېوادونو کې د مالیاتو د جوړښت له کمي او کیفي پلوه کمه وده لري او په هېواد کې د ننه د اقتصادي فعالیت زیاتې برخې یا په مالیاتي سیستم کې په پام کې نه نیول کېږي او یا هم د تولید د ټیټې کچې له امله زیات مالیاتي عایدات ترېنه نه ترلاسه کېږي. په زیاتو حالاتو کې د دولت لګښتونه هم د ضعیفي پلان جوړوني او کمزوري مدیریت له امله بېځایه مصرفېږي.

د اقتصادي فعالیتونو یوه برخه په داسې دوډیزو تصدیو کې ترسره کېږي، چې نه محاسبه لري او نه هم بیلانس. حکومت هم د اقتصادي معاملو د ثبتولو او په دې توګه د مالیاتو د ترلاسه کولو لپاره فني او مسلکي شونتیاوې نلري. په ورو تولیدي واحدونو کې محاسبه موجوده نده او د ګټو کچه هم ډېره ټیټه ده. په زیات شمېر وروسته پاتې هېوادونو کې د زیات شوي ارزښت مالیه هم ډېره محدوده ده. دا مالیه یو ډول غیر مستقیمه مالیه ده چې خرڅونکي یې د توکو او خدمتونو د خرڅولو پر مهال پر مستهلکینو وضع کوي او وروسته یې حکومت ته انتقالوي.

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

په دې هېوادونو کې د پیسو پر بنسټ د اقتصادي معاملو کچه هم ټیټه ده او حکومت نشي کولای چې دا معاملې په خپلو مالیاتي حسابونو کې ثبت کړي او په نتیجه کې د دې معاملو په هکله احصائیوي مالومات هم نلري. که حکومت د ملي اقتصاد د یوې زیاتې برخې په هکله مضبوط ارقام ونلري نو د اقتصادي ستراتیژیو او پلانونو د طرح کولو وړتیا یې هم محدودېږي.

په وروسته پاتي هېوادونو کې د بشري ودې د شاخص کمه وده هم د دې لامل ګرځي چې خلک د بېسوادۍ له امله د حکومت د مالي پالېسیو پر ارزښت او اهمیت نه پوهېږي او که حکومت دا ډول پالیسی طرح هم کړي نو د خلکو ملاتړ ورسره نشته. هېڅ حکومت د دې توان نلري چې خپل پرمختیایي او نور سیاستونه د خلکو د پراخو برخو له ملاتړ څخه پرته په عمل کې پلي کړي.

له مالیاتو څخه تېښته په ځانګړې توګه په وروسته پاتي هېوادونو کې د مالي سیاست په وړاندې یوه بله لویه ستونزه ده. ځرنګه چې مو مخکې یادونه وکړه په ملي اقتصاد کې حکومت د خپلو مالي وسیلو زیاته برخه د اقتصادي فعالیتونو د مالیاتو له لارې ترلاسه کوي. په وروسته پاتي ټولنو کې د ملي اقتصاد مالي بنسټونه هم وروسته پاتي دي. په دې هېوادونو کې د اقتصادي راکړې ورکړې یوه زیاته برخه په غېرقانوني توګه ترسره کېږي، بې له دې چې ملي اقتصاد یې له مالیاتو ګټه ترلاسه کړي. په دې اړه اقتصادي وروسته پاتي والی، د احصایېو، محاسبو او ارقامو نشتوالی په دولتي ادارو کې له اداري فساد سره یو ځای له مالیې د تېښتې یو بل لامل رامنځته کوي.

په وروسته پاتي هېوادونو کې نه یوازې د مالي سیاست، بلکه د ټولنیز ژوند په ټولو نورو برخو کې هم بېلابېلې سیاسي ډلې، بې له دې چې ټولنیزې سوکالۍ ته پاملرنه وکړي، هر څه د خپلو ګټو د تر لاسه کولو لپاره تر سره کوي، آن دا چې دولتي شتمنۍ خپل شخصي ملکیت ګڼي او په غیرقانوني توګه یې خپلوي. دا ډول چلند همدا اوس په افغانستان کې تر سترګو کېږي .

حکومت باید د مالي سیاست له لارې د بېکارۍ له منځه وړلو او یا هم په کمولو کې هس او هاند وکړي. په دې اړه د حکومت له خوا په اقتصادي او ټولنیزو برخو کې د لګښتونو له لارې نه یوازې په دولتي سکتورونو کې بلکه په خصوصي سکتورونو کې هم د کار او مشغولا فرصتونه رامنځ ته کېږي. وروسته پاتي هېوادونه د دې موخې د ترسره کولو لپاره باید پور واخلي، د دې لپاره چې ملي اقتصاد یې دومره توان نلري چې له خپلو مالي وسیلو څخه په کار اخستنه دا ډول پروژې عملي کړي. (س. ملهوترا). خو تاریخي تجربو ښودلې ده چې وروسته پاتي هېوادونه پور اخلي او دا پورونه یا په هغو پروژو کې کارول کېږي چې د ملي اقتصاد لپاره کومه ځانګړې ګټه نه رامنځته کوي او یا یې هم زیاته برخه د چارواکو شخصي حسابونو ته انتقالېږي .

په دې توګه وروسته پاتي هېوادونه د مالي سیاست له لارې د ملي اقتصاد د دوې او پرمختګ موخې لکه د بېکارۍ له منځه وړل یا کمول، د بیو ثبات، د اقتصادي ودې چټکتیا، د موجودو زېرمو متعادل وېش، د عایداتو او شتمنیو نسبي وېش، اقتصادي ثبات، د پانګې اچونې لپاره د ښو شرایطو رامنځته کول په لازمه توګه عملي کولای نشي.

**پایله**

وروسته پاتي هېوادونه د خپلو اقتصادي ستونزو د له منځه وړلو لپاره په ټولنیزو او اقتصادي برخو کې پانګه اچونې ته اړتیا لري او له دې لارې کولای شي د اقتصادي کاري پلانونو د طرح کولو او عملي کولو په مرسته د عایداتو او تولید


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

کچه لوړه کاندي. خو دا پانګه اچونه باید د یوه منظم پلان په چوکاټ کې د ټولنې د اقتصادي غوښتنو په پام کې نیولو سره عملي شي. په وروسته پاتې هېوادونو کې د تحصیل ټیټیه کچه، تعلیمي او تحصیلي فرصتونو ته د زیات شمېر وګړو د لاسرسی نشتوالی د مسلکي ظرفیتونو د محدودېدو لامل ګرځي. د دې تر څنګه مسلکي دندې د اداري فساد، قومي، سیمه ایزو او ژبنیو اړیکو پر بنسټ وېشل کېږي. د دې ستونزو له امله په وروسته پاتې هېوادونو کې زیاته اندازه انساني، مالي او مادي شتمني له منځه ځي او مالي سیاست د اقتصادي ودې او پرمختګ د تامینولو موخې نشي عملي کولای.

زیات شمېر وروسته پاتې هېوادونه په ځانګړي توګه په شپېتمو او اویاومو کلونو کې په دې آند وو، چې د حکومت د بودجوي لګښتونو په زیاتېدو سره به اقتصادي پرمختګ او وده په اتوماتیکه توګه رامنځته شي. هېوادونو د خپلو زیاتېدونکو لګښتونو د تمویل لپاره پورونه واخستل چې وروسته یې د ادا کولو وړتیا هم نه لرله او له دې پلوه تر اوسه هم له زیاتو اقتصادي ستونزو سره لاس او ګرېوان دي. کله چې حکومت خپل لګښتونه زیاتوي نو په لومړي سر کې مجموعي تقاضا د مجموعي عرضې په پرتله په چټکه توګه زیاتېږي او د انفلاسیون د رامنځته کېدو ګواښ رامنځته کېږي. یعني د یوې ستونزې حلول نورې ستونزې رامنځته کولای شي .په دې هکله باید په هېوادونو کې مالي او پولي سیاست غبرګ عمل وکړي تر څو د ملي اقتصاد د ودې او پرمختګ د تامینولو لپاره اقتصادي ثبات تامین شي. حکومت باید د دې کار مسلکي وړتیا ولري چې پر تولید، مصرف او د عایداتو پر وېش د کسري او مازادو لګښتونو، د مالیاتو د کچې د بدلولو او د دولتي پورونو له ممکنو ناوړه اغېزو مخنیوی وکړي. د وروسته پاتې هېوادونو د نن ورځې د بهرنیو پورونو د لوړې کچې یو لامل هم د همدې وړتیا نشوالی دی .

وروسته پاتې هېوادونه باید هڅه وکړي چې د پیسو او مالي سیاستونو د پلي کولو لپاره خپل مالي او بانکي سیستم ته وده ورکړي. حکومت به د پیسو او مالي سیاستونو د دې دواړو مهمو محورونو له شته والي پرته د دې توان ونلري چې په ټولنه کې اقتصادي وده او پرمختګ رامنځته کړي. دا هېوادونه باید زیار وباسي چې د حکومت د لګښتونو لپاره لازمي مالي وسیلې د مالیاتو له لارې تامین کړي، د مالیاتو یو منظم سیستم رامنځته کړي، له مالیاتو څخه د قدرتمندانو له تېښتې مخنیوی وکړي، مالیاتي بخششونه له منځه یوسي او د ټولنې ټول وګړي د هغوی د اقتصادي توان او د اقتصاد د ودې او پرمختګ د اړتیاوو په پام کې نیولو سره د ملي اقتصاد د ودې او پرمختګ او د ټولنې د سوکالۍ د موخو په عملي کولو کې شریک کاندي. د وروسته پاتې هېوادونو د مالي او بانکي سیستم په وړاندې یوه لویه ستونزه بیا هم لکه د ټولنیز ژوند په ټولو نورو برخو کې اداري فساد دی .

**اخځلیک:**


۵-مایک مور، په کم عاید لرونکو هېوادونو کې د مالیاتي عایداتو په وړاندې خنډونه، د مالیاتو او پرمختګ لپاره نړیوال مرکز (ICTD)، ۲۰۱۳،

(The International Centre for Tax and Development)

(په لیکه), دلته یې وګورئ:

http://www.ictd.ac/sites/default/files/ICTD%20WP15.pdf

(د لاسرسي نیټه: ۲۴/۹/۲۰۱۵)

۲- داوید ن. ویل، د اقتصاد کنسایس (لنډه) ډیکشنري ، مالي سیاست، (Fiscal Policy)

(په لیکه), دلته یې وګورئ:

http://www.econlib.org/library/Enc/FiscalPolicy.html

(د لاسرسي نیټه: ۲۴/۹/۲۰۱۵)


---




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

۳ -جهان، محمود، پیاګیورګیوس، د کینز د اقتصاد تعریف، د پیسو نړیوال صندوق، ۲۰۱۴،
(What is Keynesian Economics?)
(په لیکه)، دلته يې وګورئ:
http://www.imf.org/external/pubs/ft/fandd/2014/09/basics.htm
(د لاسرسي نیټه: ۲۴/۹/۲۰۱۵)

۴ -انوستوپیډیا، مالي سیاست، (Fiscal Policy)
(په لیکه)، دلته يې وګورئ :
http://www.investopedia.com/terms/f/fiscalpolicy.asp
(د لاسرسي نیټه: ۲۴/۹/۲۰۱۵)

۵ -سیم ملهوترا، د پرمختلونکو هېوادونو د مالي سیاست نیمګړتیاوې،
(What are the Limitations of Fiscal Policy in Developing Countries?)
(په لیکه)، دلته يې وګورئ:
http://www.shareyouressays.com/112144/what-are-the-limitations-of-fiscal-policy-in-developing-countries
(د لاسرسي نیټه: ۲۴/۹/۲۰۱۵)

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ